# إِنَّ اللَّهَ تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِي مَا حَدَّثَتْ بِهِ أَنْفُسَهَا، مَا لَمْ تَعْمَلْ أَوْ تَتَكَلَّمْ». " يقينا چې الله جل جلاله زما امت ته له هغه څه تېر شوی چې دوی ته يې نفسونه وسوسې وراچوي، تر هغه پورې چې يا پرې عمل وکړي او يا يې ووايي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «إِنَّ اللَّهَ تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِي مَا حَدَّثَتْ بِهِ أَنْفُسَهَا، مَا لَمْ تَعْمَلْ أَوْ تَتَكَلَّمْ». " يقينا چې الله جل جلاله زما امت ته له هغه څه تېر شوی چې دوی ته يې نفسونه وسوسې وراچوي، تر هغه پورې چې يا پرې عمل وکړي او يا يې ووايي".
[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې مسلمان په هغه څه نه نيول کيږي چې په زړه کې يې کومه د شر خبره تېره شي مخکې لدې چې عمل پرې وکړي او يا يې په ژبه ووايي، ځکه چې الله جل جلاله مشقت پورته کړی او بخښلی يې دی، او د محمد صلى الله عليه وسلم امت په هغه څه نه نيسي چې په ذهن کې يې تېريږي او په زړه کې يې اوړي را اوړي، خو پدې شرط چې باور پرې ونه کړي او زړه ته يې کښېنباسي؛ خو که چېرته يې په زړه کې ځای ورکړ لکه کبر، غرور، منافقت او يا يې په اندامونو عمل وکړ او يا يې په ژبه وويل، نو بيا پرې نيول کيږي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/58144

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee